# دَ یوحنا رسُول دویم خط

## سلام

۱ دا خط دَ مشر له طرف نه دے، اَؤ هغه میرمنے اَؤ دَ هغے بچو په نُوم لیکلے کیږی
چا سره چه زَهٔ رښتینی مینه لرم، یواځے زَهٔ نه، بلکه ټول هغه څوک چه دَ حق نه خبر
دی، ۲ اَؤ دَ حق دَ خاطره چه په مُونږ کښے دے اَؤ تل تر تله به په مُونږ کښے پاتے
وی.

۳ دَ خُدائے پلار اَؤ دَ هغهٔ دَ زوئے عیسیٰ مسیح فضل، رحم اَؤ سلامتی دِ په حقیقت
اَؤ مینے سره په مُونږ کښے پاتے وی.

## حقیقت اَؤ مینه

۴ زَهٔ په دے ډیر خوشحاله شوم چه مے واؤریدل چه ستاسو ځنی بچی دَ حق په لار
روان دی څنګه چه پلار مُونږ ته حُکم کړے وو. ۵ اَئے خوږے میرمنے! اوس زَهٔ
درته یو عرض کوم چه راځئ چه دَ یو بل سره مینه لرُو. دا خیال مه کوئ چه نوے حُکم
درکوم بلکه هغه یو دوباره دریادوم کُوم چه مُونږ ته دَ اول نه راکړے شوے وو. ۶ اَؤ
دَ مینے نه زما مطلب دا دے چه مُونږ دَ خُدائے په حُکمُونو عمل وکړُو. دا هم هغه حُکم
دے چه تاسو له اول نه آؤریدلے دے چه تاسو ته پکار دی چه په مینه کښے ژوند تیر
کړئ.

۷ ډیر فریبیان دُنیا ته راغلی دی چه دَ عیسیٰ مسیح په جسم کښے دُنیا ته راتلل نهٔ
منی، داسے کسان لوئے ټګماران اَؤ خردَجالان دی. ۸ تاسو خبردار شئ چه کُومه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خواری چه مُونږ په تاسو کړے ده، هغه دِ ستاسو په سبب ضائع نۀ شی بلکه تاسو دِ دَ هغے پُوره اجر بیا مُومئ.

٩ هر هغه څوک چه دَ مسیح په تعلیم قائم پاتے نۀ وی بلکه هغه پریږدئ، دَ هغۀ سره خُدائے نِشته، څوک چه دَ مسیح په تعلیم عمل کوی نو دَ هغۀ سره پلار اَؤ زوئے دواړه شته.
١٠ که څوک درته راشی اَؤ دا تعلیم درنۀ کړی نو هغه خپل کورته مه پریږدئ اَؤ مه ورته سلام وایئ.
١١ ځکه چه هر هغه څوک چه هغۀ ته سلام وائی، هغه دَ هغۀ په بدو کارُونو کښے شریک دے.

## آخری سلام

١٢ ډیرے خبرے داسے دی چه زۀ ئے تاسو ته لیکل غواړم خو دَ هغے زۀ په لیک کښے راوستل نۀ غواړم، خو زۀ دا اُمید لرم چه دربه شم اَؤ درسره به مخامخ خبرے وکړم دَ دے دَ پاره چه زمُونږ خوشحالی پُوره شی.

١٣ هغه خور چه خُدائے غوره کړے ده دَ هغے بچی تا ته سلام وائی.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.